نجیب منلی
۲۰۱۹/۰۱/۱۸

# که زه کاندید وای
# نظامی دوکترین

ملي امنيتي ځواکونه هغه وخت واقعاً «امنيتي ځواک» بلل کېدای شي چې لازم امکانات ولري او يوازې هغه وخت واقعاً «ملي» کېدای شي چې امکانات يې د ملت په استازولی د ملي حکومت په واک کې وي.

سره له دې چې په تېرو، څه کم، دوه لسيزو کې افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو د زړګونو ځوانانو د سر په بيه وکړای شول چې د افغانستان ځمکنۍ بشپړتيا او د ولسواکی نظام په ساتلو کې نسبتاً بريالی نقش ولوبوي خو له دې امله چې د دغو ځواکونو تمويل سل په سلو کې په بهرنيو مالي امکاناتو کېږي، له درندو قربانيو سره سره، هم د ملت ډېرى وګړي او هم د هېواد سياستوال وېره لري چې د بهرني ملاتړ له ختمېدو سره به دغه ځواکونه له ناکامی سره مخ شي.

د نوي نظام د جوړېدو له ورځې تر دې دمه افغان حکومت پر نړيواله ټولنه تکيه کړې او لا نه دی بريالی شوی چې د هېواد د بهرني او کورني امنيت په اړه خپلواک، د ملي ارادې ممثل، سياست ولري. د هېواد د بهرني او کورني امنيت د تامين له پاره د يوه رېښتيني نظامي دوکترين نه شتون، که له يوې خوا پر نړيوالو د بشپړې اتکا زېږنده ده، له بل لوري په کور دننه د هېواد او نظام د ساتني د مسؤوليت د منلو له پاره هم ستر خنډ دی.

نظامي دوکترين د اصولو هغه بنسټيزه مجموعه ده چې د هېواد د ملي امنيت د ساتلو په خاطر ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو ته د عمل چوکاټونه ورکوي. نظامي دوکترين د يو هېواد اقتصادي، سياسي، علمي، ټولنيزو، رواني، تاريخي او تخنيکي اوضاعو ته په کتو د هغه هېواد د وسله والو ځواکونو موخې او وظايف په ګوته کوي او دا مشخصوي چې د خپلو موخو د لاسته راوړلو او وظايفو د اجرا له پاره څه ډول، په کومو امکاناتو د جنګ تابيا ونيسي.

د نظامي دوکترين تر ټولو مهم ټکی دا دی چې يو ملت څنګه په يو ګواښوونکي نړېوال چاپېريال کې خپل موجوديت تعريفوي او ځان تثبيتوي. کله چې د افغانستان پر نظامي دوکترين فکر کوو نو لازمه ده چې لومړی دا خبره مشخصه کړو چې افغانستان له کومو ګواښونو سره مخ دی او څنګه کولای شي دغو ګواښونو ته مناسب ځواب ووايي.

## ۱ - ګواښونه

### - ۱,۱ - بهرنې ګواښونه

افغانستان شپږ ګاونډیان لري چې د هر یوه له خوا افغانستان ته متوجه ګواښونه بېلې بېلې بڼې لري. همداراز د سیمې هېوادونه (روسیه، ترکیه، د خلیج هېوادونه، هند) په افغانستان کې ګټې لري (یا د ګټو درلودلو احساس لري) چې د افغانستان پر امنیت او خپلواکۍ باندې په یو نه یو ډول اغیز ښندي.

د افغانستان او سیمې منځمهالو ګټو ته په کتو، چین او د افغانستان شمالي ګاونډیان (تاجیکستان، ازبکستان، ترکمنستان) د هېواد د پولو خوندیتابه ته د پام وړ ګواښ نه پېښوي. له دې هېوادونو سره پر پولو عمده ګواښ د قاچاقبرانو او تروریستي ډلو تحرکات دي چې غالباً د دوه اړخیزو او څو اړخیزو همکاریو په چوکاټ کې څوابېدلای شي.

افغانستان او ایران په خپلو منځو کې د ځمکنۍ بشپړتیا په اړه کومه جدي ستونزه نه لري. ایران هم اوس د افغانستان پر سیاستونو د مستقیم اغیز درلودلو له پاره هڅې کوي او هم به په راتلونکې کې همدا وړ سیاستونه ولوبوي. دا موضوع د افغانستان امنیت ته جدي ګواښ بلل کېدای شي خو څواب یې تر ډېره سیاسي او استخباراتي اړخونه لري. د افغانستان اوبه د ایران له پاره د پام وړ شتمني ده. ایران به په راتلونکې کې په هره ممکنه لار په افغانستان کې د اوبو د مهارولو پروژو ته خنډونه جوړ کړي. د ګډې پولې دواړو خواوو ته د قاچاق د لارو شتون او د سیمې په وګړو کې له مرکز څخه د فاصلې اخیستلو د تمایلاتو موجودیت کېدای شي چې په محدوده کچه، خو د ریښتیني ګواښ په توګه، د دواړو هېوادونو پر ګډه پوله د پوځي برخورد له پاره زمینه برابره کړي.

افغانستان او پاکستان د ډیورنډ د کرښې پر سر اوږد تاریخي کړکېچ لري. د پاکستان له ایجاد څخه راوروسته، پاکستان همیشه خپل امنیت د افغانستان له بې ثباتۍ سره تړلی بللی دی او په افغانستان کې د سیاسي او نظامي ثبات د مختلولو له پاره یې له هرې ممکنې وسیلې استفاده کړې ده. د پاکستان نظامي استخبارات په افغانستان کې د تقریباً ټولو تخریبي عملیاتو تر شا دي. د کرښې پر سر پاروونکي اقدامات کله کله محدود وسله وال برخوردونه رامنځ ته کوي.

د ایران فعال عسکري ځواک ۵۳۴ زره تنه دی چې څه باندې څوارلس ملیارده ډالره (د کورني ناخالص تولید ٪۳،۱) لګښت لري. د پاکستان فعال عسکري ځواک ۶۵۳ زره تنه دی چې نېږدې یوولس ملیارده ډالره (د کورني ناخالص تولید ٪۳،۵) لګښت لري. د دواړو هېوادونو د پوځونو بشري او مالي ځواک او تسلیحاتي وړتیا د افغانستان له پوځي ځواک سره د پرتلې وړ نه ده.

ممکنو متوجه ګواښونو او د قواوو تناسب ته په کتو، د وړاندوینې وړ راتلونکې کې، د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو په ماموریتونو کې له هیڅ ګاونډي هېواد سره مخامخ نظامي ښکېلتیا د تصور وړ نه ده. افغانستان باید د خپل ځمکو او پولو د خوندیتابه له پاره له مخامخ نظامي اقداماتو پرته پر نورو لارو چارو غور وکړي.

له ګاونډیو پرته یو شمېر نور بهرني هېوادونه د افغانستان پر خاوره د منافعو درلودلو احساس لري. دا هېوادونه هڅه کوي چې د استخباراتي لوبو له لارې د افغانستان پر کورنیو سیاستونو اغیز ولري. هغه ګواښ چې له دې درکه افغانستان ته متوجه دی مستقیماً د افغانستان جنګي ځواک نه ښکېلوي خو افغانستان ته په کار دي چې په استخباراتي ډګر کې دا ګواښ هم تر پوښښ لاندې ونیسي.

### - ۱,۲ - کورني ګواښونه

د افغانستان امنیت ته تر ټولو ستر ګواښ په کور دننه بلواګاني، اغتشاشونه او بغاوتونه دي. د دې تر څنګ، د افغانستان جغرافيايي موقعيت د اسيا او اروپا د جرمي اقتصاد (د نشه يي توکو قاچاق، د انسانانو قاچاق، د تجارتي مالونو قاچاق) د کاروباريانو له پاره خورا په زړه پورې دی او ستر جنايي باندونه د افغانستان د سراسري امنيت له پاره د پام وړ ګواښ بلل کېدای شي. همداراز د بهرنيو استخباراتي کړيو تخريبي فعاليتونه د کورنيو ورانکارو پر مټ ترسره کېږي نو دا هم په کورنيو ګواښونو کي شاملولای شو.

### - ۱,۳ - ګواښمنتيا (Deterrence)

پرته له جګړې د يو هېواد د دفاع تر ټولو غوره لار دا ده چي ممکن تعرض کوونکی هېواد په دې خبره قانع کړي چي که تعرض وکړي نو ګرانه به ورته پرېوځي. عموماً هېوادونه د دې چارې له پاره داسي پوځي او تسليحاتي امکاناتو ته مخه کوي چي ډېر ويجاړوونکي وي. اتومي وسلې د ګواښمنتيا تر ټوله عامه او منل شوې وسيله ده. هېوادونه د دې له پاره اتومي وسلې نه جوړوي چي عملاً ترې د جنګ په ډګر کي کاراخلي خو ممکن ګواښوونکی هېواد په دې پوهېږي چي که تېری وکړي نو دا خطر شته چي اتومي وسله پرې وکارول شي. د دې له پاره چي يو هېواد خپل خلک او خپله خاوره له اتومي ناورين څخه خوندي کړي نو زړه نه ښه کوي چي پر داسي هېواد بريد وکړي چي اتومي وسله لري.

د افغانستان په ګاونډيو کي چين او پاکستان عملاً په خپلو وسله تونونو کي اتومي بمونه لري او ايران د اتومي وسلو د جوړولو تخنيکي وړتيا پيدا کړې ده او که څه هم نړيوالو فشارونو تراوسه دې ته نه دی پرې ايښی چي په ښکاره اتومي بم و ازمېيي خو تصور کېدلای شي چي په نسبتاً نېږدې راتلونکي کي دا هېواد هم ورته وسلو ته لاسرسی پيدا کړي. د داسي بالقوه دښمن د ډارولو له پاره افغانستان نه پر متعارف نظامي ځواک تکيه کولای شي او نه پر لوړه نظامي تکنالوژي.

د دې له پاره چي د افغانستان ګاونډيان پر افغانستان يرغل کولو ته زړه ښه نه کړي نو په کار ده چي دا هېواد هم د ګواښمنتيا وسايل پيدا کړي. د ګواښمنتيا تر ټولو ساده وسيله له يو ستر بهرني ځواک سره ستراتيژيکه ملتيا ده. افغانستان کولای شي چي د خپلي خاورې د خونديتابه له پاره له يو ستر نړيوال ځواک سره د ګډې دفاع ستراتيژيک تړون ولري. دا ډول تړونونه که له يوې خوا د يرغل کوونکو هېوادونو پر وړاندې ښه دفاعي وسيله کېدای شي، له بل لوري دا ايجابوي چي خپل ستراتيژيک مل ته داسي امتيازات و منې چي هغه له افغانستان سره د خپل برخليک شريکولو ته وهڅوي. په اوسنيو شرايطو کي امريکا د دې چارې له پاره ښه ستراتيژيک مل کېدلای شي خو د امريکا سياستونو ته په کتو (په تاريخ کي څو ځله داسي شوي دي چي امريکا خپل ستراتيژيک مل په سختو شېبو کي پر ميدان پرې ايښی وي) د ګواښمنتيا دا وسيله هغومره ډاډمنه نه ده چي تمه يې کېږي.

د افغانستان له پاره د ګواښمنتيا تر ټولو غوره وسيله د افغانستان نظامي تاريخ دی: هر کله چي کوم هېواد اراده کړې چي پر افغانستان د زور د اعمال له لارې مسلط شي، د افغانانو ملي مقاومت له ماتې سره مخ کړی دی. که افغانستان غواړي چي د هر ممکن نظامي يرغل پر وړاندې ځان ډاډمن کړي نو بايد پر خپل نظامي تاريخ تکيه وکړي. د دې

کار له پاره لازمه ده چې افغانستان داسې شرايط رامنځ ته کړي چې هر ممکن يرغلګر په دې مطمين و اوسي چې پر دې هېواد تېری به ورته تر حد ډېر ګران پرېوځي. د ملت د ازادي غوښتنې احساسات به د چا سترګو ته ودرېږي خو شايد بلاغوارۍ (ماجراجو) دښمن داسې وانګېري چې تش لاس ملت دومره هم ګواښمن نه دی چې د وچ نظامي ځواک پرورانديې ودرېږي (روسيې، پاکستان او امريکا دا تجربه وکړه؛ ايران د طالبانو د واکمنۍ پر مهال دا خطر پر ځان و نه مانه). د دې له پاره چې د افغانانو د مقاومت وړتيا له بالقوه ګواښ څخه په يوه بالفعل ځواک بدل شي، د افغانستان حکومت کولای شي چې داسې يو احتياطي ځواک ايجاد کړي چې ملت د دايمي تيارسئ په حالت کې وساتي، په ټول هېواد کې د سپکو وسلو زېرمه تونونه جوړ کړي چې که اړتيا پيښه شي ملت په خپله له ځانه دفاع وکړي او يرغلګر پر خپله بې پروايې پښېمانه کړي. د ګواښمنتيا دغه ملي، اماده خو نامنسجم ځواک کولای شي ډېر په اسانه د افغانستان ځمکنۍ بشپړتيا خوندي کړي.

### ۲ - د ګواښونو ځواب

د افغانستان کورني او بهرني امنيت ته متوجه ګواښونه د افغانستان د ضرورت وړ دفاعي امنيتي ځواک د بېلابېلو څانګو وظايف، ماموريتونه او جوړښت تعينوي.

د خلکو د ورځني امنيت ساتل، د حکومتي واک تعميل او د قانون تنفيذ د پوليسو وظيفه ده. او د بلواګانو، اغتشاشونو او بغاوتونو په قوت ځپل د ملي اردو کار دی. د بهرنيو استخباراتي لوبو شنډول د استخباراتي دستګاه د فعاليت ساحه ده.

پورته شمېرل شويو مواردو ته په کتو، د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو اوسنی ترکيب او تشکيل په هېڅ وجه د افغانستان امنيتي ستونزو او ننګونو ته ځواب نه شي ويلای. د مشخص، معقول او واقعبين نظامي دوکترين نه شتون د دې باعث شوی چې د افغانستان حکومت او ورسره بهرنيو ملاترو په تېرو نېږدې دوو لسيزو کې د ستونزو پر وړاندې انفعالي غبرګون ښکاره کړی دی.

د ګواښونو او ننګونو ارزونه د افغانستان د نظامي دوکترين بنسټونه په دې توګه راځرګندوي

- د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتيا او بهرني امنيت د تامين له پاره افغان دولت نه شي کولای چې پر نظامي ځواک تکيه وکړي. د بهرنيو ګواښونو پر وړاندې د افغانستان يوزينی معقول ځواب د هېواد د ګواښمنتيا په وسايلو کې دی. افغانستان بايد، په هر ډول چې وي، داسې شرايط رامنځ ته کړي چې ګاونډيان د افغانستان پر خاوره د تعرض له پاره زړه ښه نه کړای شي. د دې چارې يوازينۍ ممکنې لارې له يوې خوا په نړيواله کچه له سترو ځواکونو سره ستراتيژيکه ملتيا ده او په کورنۍ کچه د ولسي دوامداره، پلان شوي مقاومت د تنظيم په خاطر د دقيقو ميکانيزمونو ايجادول، پالل او معرفي کول دي.
- بغاوتونه او شورشونه، وسله وال پاڅونونه دوه اړخه لري. يو يې دله ييز خوزښتونه دي چې فوري او قاطع ځواب يې د ملي اردو له کوماندو ځواکونو سره دی او دوامداره مديريت يې د پوليسو او استخباراتو دنده ده. بل يې د هېواد په وګړو کې د نا امنۍ د احساس پيدا کول دي چې دا ډول شورشونه د پوليسي وسايلو په مرسته مهارېدلای شي.

له دې امله د افغانستان ملي اردو پراخه تشکيلاتو ته اړتيا نه لري. د افغانستان له پاره مناسبه ملي اردو د شاوخوا پنځوس زره پرسونل په ترکيب ځواکمن، متحرک او مجهز کوماندو ځواک دی.

- د لويو جنايتونو او سازمان شويو جرمونو پر وړاندې د ملي پوليسو په چوکاټ کې د لسو زرو تنو شاوخوا يو مجهز، متحرک، روزل شوی ضربتي ځواک د غبرګون تر ټولو غوره وسيله ده.
- د عاجلو پېښو له پاره د کوماندويي وړتياوو درلودونکو پينځه زره تنو په ظرفيت د چټک غبرګون قوه کافي برېښي.

- د جنایاتو او جرمونو د کشف، څېړنې او تعقیب له پاره د شاوخوا لس زرو تنو مسلکي پولیسانو په ترکیب مجهز جنایي پولیس په کار دي.
- د استخباراتو او جاسوسي ضد فعالیتونو له پاره د ملي امنیت په چوکاټ کې د یوې مناسبې، خو محدودې، بشري قوې تر څنګ د معلوماتو د راټولولو، تحلیل، ارزولو او پر سیاستونو د بدلولو یو پیاوړې، په عصري ټکنالوژۍ سمبال ټیم ته اړتیا ده.
- د عامه نظم او هېوادوالو د ورځني امنیت او د قانون د تنفیذ له پاره د ۲۰۰۰۰۰ تنو په ظرفیت د سیمه ییزو، نا وسله والو او یو کم شمېر په سپکو وسلو سمبال پولیسو ځواک ته اړتیا ده.

د افغانستان د مشخصو امنیتي ګواښونو او ننګونو له پاره، د پورته یادو شوو بنسټیزو حقایقو په رڼا کې افغانستان کولای شي چې د یو نسبتاً ښه امنیت له پاره د شاوخوا دوه ملیاردو ډالرو کلني لګښت په بودجوي چوکاټ کې د اړتیا وړ مناسب نظامي ځواک ولري.

د افغانستان کورنی ناخالص تولید په ۲۰۱۸ کال کې ۲۱ ملیارده ډالره و. دوه ملیارده ډالره نظامي بودجه د ناخالص کورني تولید ۹٪ جوړوي. دا رقم که څورا لوړ هم دی خو د زغملو وړ برېښي. په پینځو کلونو کې د نظامي بودجې فشار د افغانستان پر اقتصاد د کورني ناخالص تولید شاوخوا ۵٪ ته راټیټېدای شي او کم له کمه د یوې لسیزې له پاره په همدې حدودو کې ثابت ساتل کېدای شي.

که احیاناً نړیوالې مرستې بندې هم شي، افغانستان کولای شي چې خپلو امنیتي اړتیاوو او وړتیاوو ته په کتو، خپل نظامي ځواک له ملي سرچینو تمویل کړي او په دې توګه د سیاسي خپلواکۍ لومړی شرط، چې د یو پر ځان بسیا امنیتي او دفاعي ځواک درلودل دي، پوره کولای شي.

یو معقول، واقعبین او په ملي منافعو ولاړ نظامي دوکترین درلودل کولای شي چې د افغانستان نظامي ځواکونه په ریښتیني مانا ملي او خپلواک کړي او هېواد په پردي نظامي ملاتړ د بې باوره اتکا له حالته وباسي.

## یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چې د دی لیکوال نوری لیکنی هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لاز ښودنه تر لاسه کړی!

که زه کاندید وای «نظامی دوکترین»
manalay_n_ka_ze_candid_waay_nezaami_docytine.pdf